د افغانستان اسلامي امارت

شماره: ۴۵۰ | د وياند دفتر | ۱۴۴۴/۳/۲۴هـ ق

## د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب سوو ځمکو د استرداد د مقررې، کمېسيون، د کمېسيون د لائحې او اړوندې اختصاصي محکمې په اړه د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان صادر شو

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب سوو ځمکو د استرداد مقرره په (۴) فصلونو او (۲۱) مادو کې توشېح کړه. دغه راز عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب سوو ځمکو د استرداد د کمېسيون لائحه په (۹) مادو کې منظوره کړه. څرنګه چې په تېرو وختونو کې د اشخاصو او زورواکانو له خوا امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکې غصب سوي دي او د يادو ځمکو استرداد او د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د غصب مخنيوی د افغانستان اسلامي امارت له وجايبو څخه دی، بناءً عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د ځمکو د غصب د مخنيوي او غصب سوو ځمکو د استرداد کمېسيون ترکيب په لاندې توګه منظور کړ.

۱- د عدليې وزير د کمېسيون د رئيس په توګه.

۲- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزير د غړي په توګه.

۳- د ښار جوړولو وزير د غړي په توګه.

٤- د کار او ټولنيزو چارو وزير د غړي په توګه.

٥- لوی څارنوال د غړي په توګه.

دغه راز د دې فرمان په لومړۍ ماده کې ياد کمېسيون مکلف دی، چې د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د استرداد او د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي ځمکو د غصب د مخنيوي په منظور د اړوندې مقررې او لائحې سره سم اجراآت وکړي.

همدا رانګه د دې فرمان په دريمه ماده کې پر ياد کمېسيون سربېره د امارتي (سلطاني)، عامه مرعی او وقفي غصب سوو ځمکو قضيو ته د رسيدګۍ او په دې برخه کې د شرعي پرېکړو د صادرولو په منظور په لاندې ترکيب اختصاصي محکمه جوړېږي.

۱- شيخ الحديث مولوي عبدالغفار؛ د اختصاصي محکمې د رئيس په توګه.

۲-قاضي محمد صادق؛ د قاضي په توګه.

۳- مفتي محمد طاهر؛ د مفتي په توګه.

٤- مولوي صديق الله مشال؛ د محرر په توګه.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت وياند

۱۴۴۴/۳/۲۴ هـ ق

۱۴۰۱/۷/۲۸هـ ش- ۲۰/۱۰/۲۰۲۲ م